Afghanistan Digital Library

adl0033

http://hdl.handle.net/2333.1/3tx95x85



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

http://hdl.handle.net/2333.1/3tx95x85 Image 1 of 16

# نظامنامه

د

# نکاح او سنتی

په (۱۱) د ثور له په سنه ۱۳۰۶ هجری شمسی

په مطبع کښې د "شرکت رفیق" په ماشینخانه

د کابل کښې چاپ شوې

(قیمت یو جلد (۱۳) پول)

شماره د چاپ............(۲۰۰۰)

http://hdl.handle.net/2333.1/3tx95x85 Image 3 of 16

بسم الله الرحمن الرحيم

# نظامنامهٔ د نکاح، وادهٔ، او ختنې

له دې جهته چه ډېرې دعوې او جګړې په سبب
د کش مکش د خرڅو د واده او نکاح - او په سبب
د ظلم او تعدی د مېړو په حق کښې د عاجزه او ښځو
په محکمو د شریعت کښې ډېرې پېښېدلې -
لپاره د دور کېدو د ظلم، او لرې کول د منازعو او
جګړو، او قائمه د مساوات وبرابری د ښځو
په حقوکښې - په دې قاعدو بانددې چه سم او
مطابق د شرع شریفې، او موافق د مذهب حنفی دی حکم کوو -

http://hdl.handle.net/2333.1/3tx95x85 Image 4 of 16



قاعده (١): له دی جهته چه عام حکم د خدای تعالی جل جلاله په موجب د دی آیهٔ کریمه دا سی شان دی:—

قوله تعالی — فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً

پس په نکاح واخلی تاسو هغه ښځی چه حلالی دی تاسو دپاره دوه، دوه د دریو، دری څلور څلور، که چیری وویریږی تاسو له دی چه عدل برونکړی په ښځو برابر بیا له یوی ښځی کښ، پس په نکاح واخلی یوه ښځه

لپاره د دی خبری په دی صورت کښ، چه هر مسلمان مخالفت له امره د خدای تعالی څخه وکړی، سبب د زیان د دواړو جهانو به ئی وی — بنا په دا باندی په قرار د امر د حق تعالی جل وعلی شانه سره حکم حکومه چه ای صادقانو عثمانیه خمابسم لر پاس حکمه سره مقید او پابند

وُسی، کم چیری تاسو عدالت اجرابری کولای شئ

نو دوه یا دری یا څلور ښځی په نکاح سره واخلئ

او کم عدالت نه شئ کولای ـ نو یوه ښځه تاسو لره بس

دی ـ ځکه چه د دوه ښځو ساتنه ئې له عدالته

دیره گناه لری.

(۳):- هغه څوک چه دوه یا دری یا څلور ښځی لری، یا

نوی نکاح وتړی ـ او سم له شرع شریفی سره

عدل او برابری ونکړی ـ او محکمی ته خبر ورسیږی

پس له ثبوته څخه تعزیراً حکم د جزا پری کیږی ـ

بر سیره پر نشت والی د عدل او برابری چه

پلمی وښودل شی ـ هغه څوک چه په جبر او

زور سره داسی شان عرض کوونکی ښځی، له

تللو څخه عدلیه محکمو ته منع کړی، یا اختیار دار

د دوی عرض کوونکو ښځو په جبر او زور سره ئې عرض ته

نه پریږدی، تعزیراً حکم د جزا پری کاوه شی:

http://hdl.handle.net/2333.1/3tx95x85 Image 6 of 16



(۳):- په حالت دِ وړه کېنې کښې، پخوا له بلوغه، او د وسیله لو
څخه نکاح روا ده- لکن ای صاد قانو رعیته څما!
نکاح دِ وړه کېنې په منځ د تاسو کښې سبب دِ دعوو،
او منازعو، او جګړو، او د ژړاو او د نفاق کېږي-
لکه چه تجربه سره، ستاسو دِ معنوي پلار ته
معلومه شوې دِه- فطرو دې هلیل ته، پخوا له
دی نه نکاح د ورکېنې موقوفه شوې ده،
مقصود او مراد څما، اتفاق او آرامي د ستاسو
صادقانو رعیّت دی.

(٤):- په مابین د تولو خلقو کښې رواج ورَی چه اوّل
شیرینې خوري کوي، او د بیته، نامزادي او کوژده
وائي- او پس له څه مدّته څخه، یو شپږ لئ په شپه
دخنا، او واده سره معیّنه کړي ده- چه په
صباح دِ هغې شپې بدئ په تولید لو د ډېرو خلقو
سره نکاح تړله او ... املی د وصلت بدئ تمام ته

http://hdl.handle.net/2333.1/3tx95x85 Image 7 of 16



رسولي - په دې صورت کښې، يو، د واده طرفينه
ښځې پېښېدلې، دويم بېځايه ښندل نه کېدله
دريم، دعوې ته رسېدل د لږ جهتره دې، رواج
د شيريني چه ورته کوژده وېلای شي بالکل
منع کړی دی - هر څوك چه خيال د نژدې
والې لري اول د دواړه طرف خپلو په رضا
د نارينه او ښځو په منځ د خپلو کښې خبرې وکړي
او کار د وصلت په تمام کړي - په دغه شيلخې
د داسې نکاح کښې به نژدې خپلوانو او څوکسه
نور لکه ملا چه نکاح تړي او شاهدان، نور زيادم
خلق د جمعه نشي، او هغه ډېره شيريني چه پخوا
جاري وه کامل منع دی - او پس له دې نه
چه معاملې د نکاح لکه چه وښودل شوه،
خلاصه شوله، نو که ښځه بالغه وه، د
واده سر رشته د وشي پس له اخستل د مهر

http://hdl.handle.net/2333.1/3tx95x85 Image 8 of 16



دستي د میراثه ورکړه شي - او
که اجلي نابالغه وي اجازه ورلره شته چه
په کورکښ د ولي وځپلوان یا د وصي خپل کښ
وي - هرکله چه رضا د دواړو خوا وشوه
تیاري د واده دي په ښه والي او خوشحالي سره
وکړي چه په نژدي والي کښ محبّت او غیرت
او په اولاد کښ برکت پیدا شي - .
(۵) - هغه ګرده او خولشي چه په وقت کښ د ودکوتوا
پخوا تردي پیښ شوي وي د اول د مسئله نه
په شرعي محکمو کښ خلاص او فیصله شي - پس
له بیرته د هغه وقت معلوم شوي نه،
دا رنګه دعوي که څوك سند او ثبوت
درست وقطعي په لاس کښ لري خاص به
حضورته د پادشاه نقل بیرته کیږي - یا به
د پادشاه له طرفه بوی محکمي ته اختیار د اوریدو

http://hdl.handle.net/2333.1/3tx95x85 Image 9 of 16



داسی دعوی ورکول کیږی.

(۶):- هغه ښځه چه په بدی ګښی سره ورکول کیږی او یا ښځی په زور د په میراث کښی ورپه لاوی او یا ښځه د بل خیل میراث بـلـه بالکل منع او موقوف دی!

(۷): کښله ښځه او طلاق کړی ښځه د هیڅوك د مړه کول ښځه په ویره ول او دواره ول نه منع کوا!

(۸):- رواج د هغه شیونه چه په اختر و یا په برات کښی په کورکښی د ماینی و د ښځه کره آستول کیږی منع دی.

(۹):- د انجلی او هلك نکاح که پلار یا صحیح نیکه وکی درست دی نه ورانیږی، که د پلار و نیکه نه بل څوك ئې وکړی، په وقت د بلوغ کښی اختیار د نه تکلولو د نکاح لری!

(۱۰):- شیرینی د نکاح د نیم چارك نه تر یو چارك پوری نقل یا میوه د وی اضافه د نوی!

http://hdl.handle.net/2333.1/3tx95x85 Image 10 of 16



(۱۱):- مَهر د تولو طایفو زیاد تر دیرش روپی او شیره بها

د لور او قلین او طویانه بالکل موقوف دی .

(۱۲):- کالی چه میره ماینه خپلی ته ورکوی د اقسم دی

اوّل:- کالی د دنیا دارو خلقو څلور جوړی کامله رینیمین

او څلور جوړی کامله پشمی او نخی (دوړی تا) سنیکمی

دویم:- میانه حال خلق:- دری جوړی کامله و

رینیمین ، دری جوړی کامله پشمی و نخی .

دریم:- غریب خلق :- دری جوړی کامله پشمی او نخی

څلورم:- هغه کالی چه میره و ماینی خپلی ته ورکوی

اضافه تر دغو نه وی چه وښود ل شو که

کم تر دغو وی په واسطه د غریبی د وی

اختیار لری !

(۱۳):- کالی د خوم چه د خواه شخه د خسرخیل ورکول کیږی

بالکل موقوف دی .

(۱٤):- هغه دود چه د کور شخه د بلاړ یا د موړ یا د نورو

خپلوانو وفادی ته په مجلس کښی په قسم د سیالئ

او شان خو د له ور کول کیږده موقوف دی!

که پس له داد د شخه خپلی لورته شخه ورکوی اختیار لری

(۱۵)- که پس له خلاصیدو شخه د وده میره یا خپلوانو

د میره یا خپل خیل د بنځی د باده د نا دی کانتره یا

بل اسباب ورکاوه اختیار لری منعه ندی او په

ورکولو سره هم مجبوره نه دی!

(۱۶)- په شپه د نکریځو کښی که چیری میره په رضا

خپل په قسم د وده دی د نکاح میلمستیا جوړه کی

منع نه دی، لکن شیرینی او میوه اضافه تر

اندازه د خوراک د نه دی، او میلمانه د دغه

شیان، کور خپل ته نه وړی.

(۱۷)- لپاره د ملاچه نکاح تړی له پنځه ترشلو روپیو

پوری ورکول شی اضافه منع دی

(۱۸)- بی له رضا د نرو د بنځی چه بالغان دی که خوک

په جبر ودرکړي - جبر کونکي او نکاح تړونکي
ملا (تعزیر) کیږي .

(۱۹) په جمعوالي د ښځو یا د نرو لپاره د میلې د سُنتي
دواړه مې منع کړي دي، له دې جهته
چه بې ځایه او اضافه خرڅ وه

(۲۰) په فیصله او معلومول د تعزیري جزاء د قاعدې
ددې نظامنامې په نائب الحکومګیو او اعلیٰ
حکومتیو کښ په واسطه د قاضي د ابتدائي
او کوتوالي اجرا کیږي

(۲۱) په حکم د همدغې نظامنامې د نکاح چه
وړاندې ترې چاپ شوي دي - پس له جاري
او تقتیله ددې نظامي منسوخ دي

(۲۲) په اجرا کولو ددې نظامنامې "وزیر عدلیه"
مأمور دي .

تولې قاعدې ددې نظامنامې موافق له احکامه

شرع شریفی او برابر له پاک مذهب د حنفی او جمله په
په روایاتو قوتیز مفتی بها سره دی

## نقل د دستخطونو د مفتی علماؤ د لوی جرگی

(مولوی محمد ابراهیم) (مولوی عبد الحی رئیس تمیز) (مولوی عبد الخالق)
(مولوی عبد الله ست) (مولوی محمد رفیق)

په داخلول او اجرا کول د حکم د دی نظامنامه
سره په نظامو د دولت کښی امر او اراده کوم

http://hdl.handle.net/2333.1/3tx95x85 

http://hdl.handle.net/2333.1/3tx95x85 